


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا
د نشر نېټه : ۱۳ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی

# پکتيا ورزشکارانو سره نړدې دوه سوه زره افغانۍ مرسته وشوه!



هغه غونده چې په همدې اړوند د پکتيا په ورزشي لوبغالي کې جوړه شوې وه پکې لس ګونو تنو ورزشکارانو،قومي مشرانو،ولايتي چارواکواو د مدني ټولنو استازو ګډون کړی و.
دغه مرستي چې د پکتيا ملي سوداګر لخوا د نږدې دوه سوه زره افغانيو په ارزښت د پکتيا ورزش کارانو سره وشوې پکې د ورزش اړوند توکي شامل وو.



**د پکتیا ولایت ملي المپیک امر امین الله علم یار د دغه ملي سوداګر د مننې ترڅنګ د ده کړنې په ستاینلیک وستایلي.**
**علم یار رسنیو ته وویل:(( دغه ورزشي توکي چې نږدې د دوه سوه زره افغانیو په ارزښت برابر شوي و د پکتیا ملي سوداګر انجینر تاج محمد لخوا د پکتیا د بېلا بېلو ولسوالیو ورزشکارانو ته وویشل شول.**
**د پکتیا ولایت ملي سوداګر انجینر تاج محمد ګردیزی چې د همدې غونډې په ترڅ کې یې خبرې کولې وویل: (( د پکتیا ورزشکاران چې د هیواد او نړۍ په کچه یې خپل هیواد ته بریاوې راوړي دي تر دې دمه کوم چا نه دې هڅولي او نه هم ورته د دولت لخوا څنګه چې لازم دی کوم کار شوی دی. زه ترخپله وسه هڅه کوم چې د پکتیا ورزشکارانو سره نورې مرستې هم وکړم ترڅو ورزشکاران وستایل شي او خپل هیوادته د پخوا په شان بریاوې راوړي.))**

**نوموړی د پکتیا ولایت له مرستیال والي مننه وکړه چې دی یې ورزشکارانو سره مرستې ته هڅولی دی او د هر ډول مرستو ژمنه یې ورسره کړې ده .**

**دده په اند نور ملي سوداګرو هم باید ورته مرستې د ورزش د ودې لپاره وکړي او پرې نږدي چې نوي ځوانان نیشه یې توکو ته مخه وکړي.**

**دغه ملي سوداګر ورزشکاران دسولې سفیران وبلل او له دوی یې غوښتنه وکړه چې د خپل هیواد د بریاوو او ګټو لپاره خپلو کې سره د یووالي لاسونه ورکړي.**

**د پکتیا ولایت مرستیال والي عبدالولي سهي د دغه ملي سوداګر مرستې د ستاینو وړ وبللې او ژمنه یې وکړه چې د پکتیا د ورزشکارانو ستونزې به د لوړ پوړو چارواکو تر غوږونو ورسوي او ملي سوداګر به وهڅوي چې د ورزش د ودې لپاره هر ډول مرستې ونه سپموي.**

د پکتیا ولایتي شورا مرستیال ډاکتر الله میر ځاځي له یاد ملي سوداګر او همدارنګه له نورو ورته سوداګرو غوښتنه وکړه چې خپلې مرستې نورې هم وغځوي او د پکتیا ورزش کاران وهڅوي ترڅو له نیشه یې توکو سره مخه ښه وکړي.
نوموړي له نړیوالې ټولنې غوښتنه وکړه چې خپلې پانګې په پکتیا کې په کار واچوي او له هیڅ ډول ستونزو سره به مخ نه شي.
نوموړي په ځینو کړیو نیوکه وکړه چې د پکتیا د امنیت په ګډوډولو کې لاس وهنه کوي.

نوموړي زیاته کړه:(( پکتیا اوس مهال امن لرونکی ولایت دی ورزش کاران یې په څو کلونو کې ښه ځلیدلي دي  او د دې ښکارندویي کوي چې پکتیا د سولې ټاټوبی دی .))
د پکتیا ولایت یو تن ورزشکار زمری کامران د دغه ملي سوداګر د مننې ترڅنګ  د افغانستان د ملي المپیک پر ریاست نیوکه کوي : ((دغه مرستې یوازې د ملي سوداګر لخوا د پکتیا ورزش کارانو سره شوي د افغانستان ملي المپیک کمیټه تل په خپلو دندو کې پاتې راغلې او  هیڅ ګټه یې د پکتیا ورزشکارانو ته نه ده رسېدلې.))
مدني فعال او د پکتیا کور مشر محمد رفیع همیم دغه مرستې پرځای وبللې او  غوښتنه یې وکړه چې دغه لړۍ نوره هم وغځوي او دغه مرستې دوامداره وساتي.

نوموړي له ټولو ملي سوداګرو او مرستندویه ادارو غوښتنه وکړه چې خپلې مرستې لکه د نورو ولایتونو په شان پکتیا ته هم وغځوي.

د یادولو ده چې یاد سوداګر د پکتیا ولایت مرکز ګردیز او یو شمیر ولسوالیو کې هم د زده کوونکولپاره ژمني کورسونه برابر کړي وو.


**فرید احمد تسکین / پکتیا**
**taskeen32@gmail.com**


بازګشت به صفحه اصلی  -  www.said-afghani.org